UNAMA
یوناما مطبوعاتي اعلامیه
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

**د ملګرو ملتونو رپوټ: په ۲۰۱۷ کال کې ۱۰۰۰۰ ملکي تلفات**
**ځانمرګي بریدونه اوځای په ځای شوي چاودیدونکي توکي د ډیر شمیر مرګ ژوبلې لامل شوي**

**کابل، د ۲۰۱۸ کال د فبروري ۱۵ مه** - د ملګرو ملتونو د کلني رپوټ پر بنسټ چې په افغانستان کې پر ملکي وګړو د وسله والو شخړو اغیزې مستندوي، څه باندې ۱۰۰۰۰ ملکیانو په ۲۰۱۷ میلادي کال کې خپل ژوند له لاسه ورکړی او یا هم ژوبل شوي دي.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي یوناما او د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د دفتر له لوري په کلني رپوټ کې چې نن خپور شو په ټوله کې په ۲۰۱۷ کال کې ۱۰۴۵۳ ملکي تلفات مستند شوي ، ۳۴۳۸ وژل شوي او ۷۰۱۵ ټپیان دي. که څه هم دا شمیره د ۲۰۱۶ میلادي کال په پرتله ۹ سلنه کموالی په ډاګه کوي، دا رپوټ د ځانمرګو چاودنو او نورو بریدونو چې ځای په ځاي شوي چاودیدونکي توکي په کې کارول شوي د زیاتو ملکي وګړو د مرګ ژوبلې لامل شوي.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړي استازي تدامیچي یاماموتو وویل: په رپوټ کې هیښوونکي شمیرې د جګړې د اغیزو په اړه با اعتباره معلومات برابروي، خو یوازې شمیرې نشي کولی پر عامو خلکو په ځانګړې توګه پر ښځو او ماشومانو یې ناوړه بشري اغیزې راونغاړي.

ښاغلي یماموتو چې د یوناما مشر هم دی د ځانمرګو بریدونو له امله ملکیانو ته د اوښتي زیان په اړه ژوره اندیښنه څرګنده کړه او وویل: زه په ځانګړې توګه په ملکي استوګن سیمو کې له توپیر پرته او غیر قانوني توګه د ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو لکه ځانمرګو بمونو او د فشار سره چاودیدونکي وسیلې د کارولو دوام شاک کړی یم. هغه وویل دا شرم دی.

په ۲۰۱۷ کال کې د ملکي تلفاتو دوهم ستر لامل د حکومت پلوه او حکومت مخالف عناصرو تر منځه ځمکنۍ نښتي وې. که څه یې هم د ۲۰۱۶ کال په پرتله ۱۹ په سلو کې کموالی درلود.

رپوټ له دریو دوه برخې تلفات یعنې ۶۵ سلنه یې حکومت مخالف عناصرو ته منسوب کړي: ۴۲ سلنه طالبانو، ۱۰ سلنه داعش/د اسلامی دولت د خراسان ولایت او ۱۳ سلنه یې نورو حکومت مخالف او نا مشخصو عناصرو ته نسبت ورکړل شوي.

حکومت پلوه ځواکونو د پنځمې برخې تلفاتو لامل شوي: ۱۶ سلنه یې افغان امنیتي ځواکونو، ۲ سلنه یې نړیوالو پوځي ځواکونو، یوه یوه سلنه حکومت پلوه وسله والو ډلو او نا مشخصو حکومت پلوه ځواکونو ته نسبت ورکړل شوي دي. د حکومت پلوه ځواکونو او نا مشخصو حکومت مخالف عناصرو ترمنځ ډزې د ۱۱ سلنه ملکي تلفاتو لامل ګرځیدلې.

له شخړو سره تړلي تاوتریخوالي له امله د ښځو او ماشومانو اغیزمنتیا هماغسې درنه پاتې ده. یوناما مستند کړي چې په ۲۰۱۷ کال کې ۳۵۹ ښځې وژل شوې چې پنځه سلنه لوړ والی ښیي او ۸۶۵ نورې ټپیانې شوې. د ماشومانو په تلفاتو کې – ۸۶۱ وژل شوي او ۲۳۱۸ نور ټپیان شوي دي چې دا د تیر ۲۰۱۶ کال په پرتله ۱۰ سلنه زیاتوالی ښیي.

په هغو بریدونو کې چې حکومت مخالف عناصرو ملکیان په کې په قصدي توګه په نښه کړي په ۲۰۱۷ کال کې په افغانستان کې د ټولو ملکي تلفاتو ۲۷ سلنه جوړوي، په ځانګړې توګه دغه تلفات د ځانمرګو او ډله ییز بریدونو چې په مستقیم ډول په کې ملکیان او ملکي اهداف په نښه شوي، رامنځ ته شوي ده.

له ۲۰۰۹ راهیسې چې یوناما د ملکي تلفاتو ثبتول پیل کړي تر ټولو خونړی پیښه چې یې مستنده کړې هغه په کابل کې د مئ په ۳۱ مه ده چې یوه ځانمرګي بریدګر خپل لاری موټر چې نژدې ۲۰۰۰ کیلو ګرامه د پوځي کچې چاودیدونکي توکي یې په کې ځای په ځای کړي و او د سهار له ګڼې ګوڼې ډکو ساعتونو کې په ملکي میشته سیمه کې وچاوه. دغې سترې چاودنې ۹۲ کسه ملکیان ووژل او ۴۹۱ نور یې ټپیان کړل.

د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمشنر زید رعد الحسین : ملکي افغانان چې ورځني ژوند ته ځي – په بس کې سفر کوي، په جوماتونو کې عبادت کوي، د هغې ودانۍ له څنګ تیریږي چې په نښه شوي، وژل کیږي. د افغانستان خلک هر کال له بل کال وروسته په نا امنۍ او ډار کې ژوند ته دوام ورکوي، پداسې حال کې چې څوک د هغوی ژوند ختموي او رژوي یې له مجازاتو څخه تښتي.

نوموړي وویل: د نړیوالو بشر دوستانه او بشري قوانینو له مخې دغه شان بریدونه منع دي او ښایي په ډیرو مواردو کې جنګي جرمونه وشمیرل شي. عاملین یې حتما باید مشخص او عدلي تعقیب شي .

EMBARGOED COPY

UNAMA
دیوناما مطبوعاتي اعلامیه
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

EMBARGOED COPY

رپوټ کې د ۱۰۰۰ ملکي تلفاتو ( ۳۹۹ وژل شوي او ۶۰۱ ټپیان) او د ۱۱۹ ملکیانو اختطاف داعش/ د اسلامی دولت د خراسان ولایت ته نسبت ورکړی . رپوټ کاږي: "دغه ډلې په ۲۰۱۷ میلادي کال کې ملکي وګړي په نښه کړي او په ځانګړې توګه په ملکي میشته سیمو کې له توپیر پرته امنیتي ارګانونه په نښه کړي." یوناما پر عبادت ځآیونو ، مذهبي مشرانو او عبادت کوونکو د شپږو بریدونو په ترڅ کې د ۱۶۰ ملکي وګړو وژنه او ۲۵۲ نورو ملکي وګړو ټپي کیدل ثبت کړي چې داعش یې د ۲۰۱۷ کال په اوږدو کې پړه منلې.

د رپوټ پر بنسټ د نړیوالو پوځي ځواکونو او افغان هوایي ځواک له لوري د هوایي بریدونو شمیر د پام وړ په توګه زیات شوی دی. یوناما د هوایي عملیاتو له اړخه چې د حکومت پلوه ځواکونو له لوري ترسره شوي ۶۳۱ ملکي تلفات ( ۲۹۵ وژل شوي او ۳۳۶ ټپیان) مستند کړي چې د ۲۰۱۶ کال په پرتله د ملکي تلفاتو په برخه کې ۷ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي. دا له ۲۰۰۹ کال راهیسې چې یوناما د ملکي تلفاتو مستندول پیل کړي دي په یوه کال کې د هوایي بریدونو له اړخه د رامنځ ته شوو تلفاتو تر ټولو لوړه شمیره ده. هوایي عملیات په ۲۰۱۷ میلادي کال کې د ټولو ملکي تلفاتو ۶ سلنه جوړوي.


رپوټ د افغانستان د حکومت او حکومت پلوه امنیتي ځواکونو له لوري په ۲۰۱۷ کال کې له زیان څخه د ټولنې د خوندي کیدو په موخه د پورته شوو ګامونو ستاینه کړې او حکومت پلوه ځواکونو ته د منسوب شوو ملکي تلفاتو په کچه کې ۲۳ سلنه کموالی همدا په ډاګه کوي.


د خوندي ساتنې نور اقدامات چې د حکومت له لوري ترسره شوي په دې کې د ملکي تلفاتو د مخنیوي لپاره د ملي پالیسۍ تصویب او ۱۹۸۰ د متعارف شوې وسلو د کنوانسیون د اسنادو تصویب دی او د دې د پنځم الحاقي پروتوکول په چوکاټ کې د جګړې د چاودیدونکو توکو د پاکولو لاربښوونه کوي.

رپوټ د پنځم پروتوکول د پلی کیدو په اهمیت ټینګار کوي چې په ۲۰۱۷ کال کې هم درلود. یوناما ۱۶۴ وژل شوي او ۴۷۵ ټپیان د جګړو د پاتې شوو چاودیدونکو توکو په پایله کې ثبت کړي، له دې ډلې ۸۱ سلنه قربانیان یې ماشومان دي او ډیری ژوندي پاتې شوې کسانو د بدن غړي لاس او پښې یا سترګې له لاسه ورکړي او نور جدي ټپونه یې زغملي، رواني زیان یې لیدلی او د دوی عادي ژوند یې له محدودیتونو سره مخامخ کړی دی.

د سپارښتنو په ډله کې، یاد رپوټ په جګړه کې پر ښکیلو غاړو غږ کړی چې د ملکیانو او ملکي تاسیساتو د خوندیتوب لپاره ټول اړین تدابیر ونیسي. رپوټ پر حکومت مخالف عناصرو غږ کوي چې د ملکي اهدافو او ملکیانو عمدي وژنې بندې کړي، په هغو سیمو کې چې تر ډیره د ملکیانو له لوري کارول کیږي له توپیر پرته او په نامناسبه توګه د ځاي په ځای شوو چاودیدونکو توکو کارول ودروي.

UNAMA
ديوناما مطبوعاتي اعلاميه
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN






EMBARGOED

UNAMA
ديوناما مطبوعاتي اعلاميه
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

## د ملکي وګړو مرګ او ژوبله - ځانمرګي او ډله ییز بریدونه
د ۲۰۰۹ له جنوري د ۲۰۱۷ تر دسمبر پورې





## په هوایي بریدونو کې د ملکي وګړو مرګ او ژوبله
له ۲۰۰۹ تر ۲۰۱۷ پورې




EMBARGOED COPY

UNAMA
ديوناما مطبوعاتي اعلاميه
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN




EMBARGOED COPY

* * *

*يوناما د افغانستان له خلکو او حکومت څخه سولې او ثبات ته د رسيدو لپاره ملاتړ کوي. د سياسي ماموريت په توګه له خپل ماموريت سره سم، يوناما د شخړې مخنيوی او حل، د ونډې اخيستنې د زياتيدو او ټولنيز يووالي او همدارنګه د سيمه ييزو همکاريو د پياوړتيا ملاتړ کوي. دا ماموريت د اغيزمنې حکومتدارۍ ملاتړ کوي، ملي مالکيت او حساب ورکوونکو بنسټونو ته چې بشري حقونو ته د درناوي پر بنسټ جوړ شوي، ملاتړ کوي. يوناما د استقلاليت، بې پرې والي او يوالي د اصل په پام کې نيولو سره د ډيپلماتيکو اقداماتو په ګډون د شخړو د زياتيدو او پراخيدو او مخنيوي په موخه ' د ښه نيت چارې' او نورو کليدي خدمتونه برابروي. دا ماموريت د افغانانو پرمختګ او بشري لومړيتوبونو لپاره نړيوالې مرستې همغږې کوي.*